دافغانستان اسلامی جمهوریت
اداره ارتباطات عامه و استراتیژیک ریاست جمهوری
مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

# ملت ته د دولت د حساب ورکولو برنامه
# برنامه حسابدهی دولت به ملت




## ریاست عمومی انسجام امور کوچی‌ها

## ۲۲ دلــو ۱۳۹۹

شماره مسلسل:۳۷

## سال مالی ۱۳۹۹

## د کوچیانو چارو سمون لوی ریاست پېژندنه

د کوچیانو چارو سمون لوی ریاست په ۱۳۸۵ لمریز کال کې کوچیانو ته د لا ښو خدمتونو وړاندې کولو په موخه د خپلواک ریاست په توګه رامنځته شوه.
دغه اداره د یوې پالسي جوړونکي او همغږي کوونکي ارګان په توګه د هېواد د کوچیانو د ټولنیز ژوند د سمون، معیشتي ژوند ښه والي، ښووني او روزني، روغتیا، مالداري نظام بیا رغوني، وترنري خدماتو وړاندې کولو، اسکانو، فرهنګي ودې، د جرګو نظام را ژوندي کولو، عامه پوهاوي او له غاصبینو څخه د کوچیـــانو د ورشو او څړځایونو د خوندي کولو لپاره کار او فعالیت کوي.
اوسمهال د کوچیانو چارو سمون اداره د هېواد په۳۱ ولایتونو کې ۳۸۰ تنه رسمي او خدماتي پرسونل لري، چې ۱۴۱ تنه په مرکز او ۲۳۹ تنه په ولایتونو کې د کوچیانو اداري موخې پلې کوي.
د کوچیانو اداره د هېواد په پنځو لویو ولایتونو ( کندهار، ننګرهار، خوست، هرات او بلخ) کې د ریاستونو او نورو ولایتونو کې د آمریتونو په کچه سیمه ییز دفترونه لري، چې په اړونده ولایتونو کې د کوچیانو د ستونزو د حل په موخه خپل فعالیتونه تر سره کوي.

## بودجه

په ۱۳۹۹لمریز کال کې د کوچیانو چارو سمون لوی ریاست لپاره ۲۰۲میلیونه ۲۸۴زره ۳۳۸افغانی ( ۲۰۲۲۸۴۳۳۸) بودجه منظوره شوې چې:
- ۱۶۲میلیونه ۲۸۴زره ۳۳۸افغانی ( ۱۶۲۲۸۴۳۳۸) عادي بودجه
- ۴۰میلیونه (۴۰۰۰۰۰۰۰)افغانی انکشافي بودجه وه.

د عادي بودجې ۱۶۰میلیونه، ۲۷۳زره او ۳۵۶ افغانی (۱۶۰۲۷۳۳۵۶)مصرف شوي چې د ټولې بودجې ۹۲سلنه جوړوي.
له څلویښت میلیونه انکشافي بودجې څخه ۷۰سلنه یې مصرف شوې، چې د ظرفیت لوړوني او پالیسي جوړونې پروژې او اداري واحدونو په جوړولو لګیدلې دي.
نوټ: د کرونا له امله ۳ میلیونه انکشافي او ۱۵ میلیونه عادي بوجه کې تنقیص راغلی دی.

## تدارکات

په ۱۳۹۹لمریز کال کې ټولې ۴۱میلیونه، ۲۲۲زره ۵۲۹ افغانی( ۴۱۲۲۲۵۲۹) په مصرف رسیدلي دي. له دې جملې څخه ۳۴میلیونه، ۴۰۷زره او ۴۳۴ افغانیو ( ۳۴۴۰۷۴۳۴) په ارزښت د ازادې داوطلبي له لارې د

دفترونو په جوړولو، د حویلۍ کرایي، د عبدالقادر کوچي او هرات لېسو لپاره د ۳۶قلمه مفروشاتو د پیرودلو، انترنیټ، د غزني ولایت وکیل محمدجان خان او ننګرهار ولایت عبدالقادر کوچي لیلیه لیسي لپاره د اعاشوي موادو په پیرودلو مصرف شوي دي. دغه راز ۶میلیونه، ۸۱۵زره او ۹۵ افغانیو ( ۶۸۱۵۰۹۵) په ارزښت د داخلي ضرورتونو لپاره خریداري هم شوې ده.

## پروژې

- د کوچیانو لوی ریاست د ظرفیت لوړوني او پالیسۍ جوړوني پروژه لري، چې په ۱۳۹۹لمریزکال کې ورته ۳۷میلیونه افغانۍ نیول شوي وې. دغې پروژې په ۱۳۹۹لمریز کال کې د کرونا له امله ۶۵سلنه بودجه مصرف کړې.
- د کوچیانو میلمستون جوړولو لپاره ۳۳،۹میلیونه افغانۍ په پام کې نیول شوې وې. موږ تر اوسه یوواځې ۱۳سلنه کار کړی او نور کارونه یې د کابل ښاروالی له لوري ځنډیدلي دي.
- سږ کال مو د پکتیا ولایت د کوچیانو چارو سمون امریت جوړ کړ او کتې اخیستنې ته وسپارل شو. په دغه تعمیر باندې ۱۱میلیونه او اته سوه زره افغانۍ لګښت راغلی چې ۱۲خونې او احاطه لري.
- د قندهار ولایت د کوچیانو چارو سمون ریاست په ودانۍ باندې هم کار روان دی. د دغې پروژې کارونه ۹۹سلنه په مخ تللي، چې نیږدې راتلونکې کې به کتې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه تعمیر باندې ۱۳میلیونه افغانۍ لګښت راځي.

د دغو پروژو په تطبیق سره ډیرو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې او همدارنګه کومه بودجه چې موږ د دفترونو لپاره، په کرایي ورکوله د هغو مخه نیول شوې. کوچیانو په مختلفو برخو کې عامه پوهاوی تر لاسه کړی او د کوچیانو ریاست لپاره د لارې نقشه برابره شوې.

## د ښوونې او روزنې برخه کې خدمات او لاسته راوړنې

اوس مهال د هېواد په کچه د کوچیانو لپاره دوه سوه یو دیرش ( ۲۳۱ ) ښوونځي فعال دي، چې له دې جملې څخه :

- ۱۵۸ لومړني یا ابتدایه ښوونځي
- ۲۴ منځني
- ۱۲ لیسې
- ۱۵ دیني مدرسې
- ۲۲ ګرځنده ښوونځي ( سویدن کمېټه یې پر مخ وړي)
- په شپږو لیسو ( خوست، غزني، ننګرهار، کابل، لوګر، هرات ) کې د لیلیې امکانات هم شته. دغو لیسو کې درې ( د ننګرهار، غزني او هرات لیسې) د کوچیانو اداري له لوري او نورې هغه د پوهنې وزارت له لوري مدیریت کیږي.

په دغو ښوونځیو کې نه شپیته زره شپږ شپیته( ۶۹۰۶۶) زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې نهه ځلوینت

زره اته سوه يو اتيا ( ۴۹۸۸۱) ذکور ا و نولس زره يوسل پنځه اتيا ( ۱۹۱۸۵)يې نجوني دي.
- په ۱۳۹۹لمريز کال کې د هيواد په څلورو ولايتونو( کابل، لوګر، بلخ او خوست) کې د څوارلس ۱۴ښوونځيو لپاره د ولسي تړون په مرسته ودانۍ جوړې شوي او ۱۵نور ښوونځي تر کار لاندې دي چې اويا سلنه کارونه يې شوي دي. دغه ښوونځي به نيږدې راتلونکي کې بشپړ شي.
- همدارنګه سږ کال د کوچيانو لپاره ۳۱ لنډمهالي ښوونيز مرکزونه يا د سواد زده کړې کورسونه داير شوي، چې ( ۷۵۰) کسانو ته د سواد زده کړه پکې ورکړل شوې ده.
- سږ کال په يوولس ۱۱ولايتونو کې ۲۱۱ دوه سوه يوولس کوچي زده کوونکي د کار او ټولنيزو چارو وزارت په همکارۍ د حرفوي زده کړو لپاره حرفوي مرکزونو ته معرفي شوي دي. همدارنګه راتلونکی کال به په ننګرهار، کابل او بلخ کې ۳۰۰هغه کوچيان چې له ښوونځي پاتې شوي او يا هم معلولين وي د حرفوي زده کړو مرکزونو ته معرفي شي.
- همدارنګه په ۱۳۹۹لمريز کال کې ۴۵۰کوچي زده کوونکي زموږ ليليه ښوونځيو کې جذب شوي دي.
- د ليليه لېسو لپاره د کمپيوټر ليب جوړيدو چارې هم نوي سلنه پر مخ تللي، چې نيږدې راتلونکي کې به په ليليه ليسو کې کمپيوټر ليبونه هم جوړ کړو.
- د يادونې وړ ده، چې د دوه سوه يو ديرش ( ۲۳۱) ښوونځيو له جملې څخه يې يواځې نهه پنځوس ( ۵۹) ودانۍ لري او پاتې ۱۷۲ يې تعمير نه لري. موږ د راتلونکي کال په پلان کې د ۵۲نورو ښوونځيو د جوړيدو هوډ هم لرو.

## د روغتيا برخه کې شوي خدمات او لاسته راوړنې

کوچيانو ته په ټول هيواد کې شپږ ويشت( ۲۶) ګرځنده او لس(۱۰) ثابت روغتيايي مرکزونه فعال دي.
- په ۱۳۹۹لمريز کال کې مو په ۱۲ ولايتونو کې د عامې روغتيا وزارت په همکارۍ ۱۵ ګرځنده روغتيايي کلينيکونه جوړ کړي. د دغو کلينيکونو خمات د ORCDموسسه پر مخ وړي. دغو کلينيکونو د يو کال په جريان کې شپږ ديرش زره نهه سوه شپږديرش( ۳۶۹۳۶) تنه نارينه او ښځينه وو کوچيانو درملنه کړې. همدارنګه يې شپږ زره درې سوه دوه شپيته( ۶۳۶۲) ماشومانو ته واکسين ورکړی دی.
- په ۱۳۹۹لمريز کال کې( ۱۱۱۰ ) يوولس سوه او لس روغتيايي رضاکاران ټريننګ شوي، چې کوچيانو ته لومړنۍ روغتيايي مرستې ورسوي. همدارنګه زموږ کلينيکونو په ۱۳۹۹لمريز کال کې لاندې روغتيايي خدمات هم وړاندې کړي دي:
- سږ کال ۶۷۴۶ميندو ته د ميندوارۍ تداوي شوې،
- ۲۶۳۵کورنيو ته د فاميلي پلانينګ پروګرام تطبيق شوی،
- ۳۴۴۸ماشومانو ته د خوارځواکۍ اړين مواد ورکړل شوي،
- ۵۳۱۸ښځو ته د تيتانوس واکسين شوی
- او ۴۶۸۵کسانو ته د تبرکلوز درملنه شوې ده.
- همدارنګه مو د دولس ۱۲نورو ثابتو کلينيکونو لپاره په ( پکتيا، فراه، پکتيکا، پروان، کابل، بادغيس،

خوست او لوګر) کې ځایونه نښه کړي چې راتلونکي کې به کوچیانو ته کلینیکونه پکې جوړ شي.

## د مالدارۍ او وترنرۍ برخه

- دا مهال د هیواد په کچه ټول ۶۰ ګرځنده او ثابت حیواني کلینیکونه فعال دي او په بیلا بیلو ولا یتونو کې په چوبړ بوخت دي. د هیواد په (۹) ولایتونو ( هرات ، مزارشریف ، پروان ، ننګرهار ، لغمان او خوست کې د کرنې اوبولګولو وزارت، هالند کمیټې او کلیپ کوچي پروژې په تخنیکي او مالي مرسته د کوچیانو د څارویو لپاره وترنري خدمات وړاندې شوي او دغه شان د خوراکي توکو ۱۵ زیرمه تونونه جوړ شوي او فعالیت لري، چې د کوچیانو اداري د اړونده څانګو لخوا يې نظارت کيږي. د هیواد په بیلا بیلو ولایتونو کې د کوچیانو چارو سمون ریاست دوهمي واحدونو تر نظارت لاندې د کوچیانو څارویو ته د چنجيو ضد درملو د ويش او واکسیناسیون پروګرام دوام لري.
- په ۱۳۹۹ لمریز کال کې په بېلا بیلو ولایتونو کې د کوچیانو مالونو ته اوو سوه زره( ۷۰۰۰۰۰) دوزه واکسین تطبق شوی، (۲۰۰۰۰۰) د دوه سوه زره څارویو درملنه شوې او درې سوه زره ( ۳۰۰۰۰۰) څارویو ته د چنجيو ضد درمل ورکړل شويدي دي.
- په روان کال کې د کلیپ پروژې په همکارۍ د کابل په قره باغ ولسوالۍ کې یو حیواني کلینیک جوړ شوی، چې د کوچیانو مالونو ته تداوي کوي.
- (۱۸) ولایتونو کې ۱۶۲ تنه د دولسم فارغان د کلپ پروګرام له لارې د وترنرۍ روغتیا پالانو په توګه روزل شوي او د لازمو اسانتیاوو له لاسته راوړلو وروسته خپلو ولایتونو ته د خدمت لپاره ګمارل شوي دي. یاد وترنران او روغتیا پالان اوسمهال ځانګړي کلینیکونه لري او کوچي مالدارانو ته خدمات وړاندې کوي.

## د جرګو برخه کې لاسته راوړنې

- کوچي سرخیلانو او په ټوله کې کوچیانو ته د عامه پوهاوي ورکشاپونه ورکړل شوي دي. همدارنګه په بدخشان او هلمند ولایتونو کې د کوچیانو د همغږۍ او ستونزو اوریدلو لويي غونډې تر سره شوي دي.
- د کوچیانو د عمومي شورا او کوچي ځوانانو شورا اساسنامې جوړې شوي دي.
- په یو دیرش ولایتونو کې د کوچیانو محلي شوراګاني شتون لري، چې کوچیانو ته په مختلفو برخو کې کار کوي. سږ کال په ۳۱ولایتونو کې څلوېښت۴۰ نوي سرخیلان تاکل شوي او همدارنګه سرخیلانو ته د هویت کارتونه ویشل شوي دي.
- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سره په همغږۍ مو د کوچیانو مالدارۍ د ودې او پیاوړتیا طرحه

جوړه کړي، چې په عملي کیدو سره به يې د کوچیانو مالدارۍ پام وړ وده کړي.
- له ملي برنامو او پروژو څخه د کوچیانو د حمایت او ګډون طرحه هم جوړه شوې ده.
- همدارنګه مو په روان کال کې کوچیانو ته د اسکانو د ویش طرزالعمل جوړ کړ.

## د کوچیانو اقتصادي پیاوړتیا

- په لومړي ځل مو( ۱۵۰۰) کوچیان ملي پراختیایي شرکت ته د کار لپاره ورپیژندلي. دغه کوچیانو ته په مختلفو برخو کې د کار زمینه برابره شوې ده.
- اوس مهال کوچیان د ولسي تړون برخه ده. د کلیو او پراختیا وزارت په همکارۍ نهه سوه دوه ( ۹۰۲) شوراګانې په پام کې نیول شوي دي، چې د دې له جملې څخه ۷۲۳ يې جوړې شوي دي. د دغو شوراګانو پر مټ به کوچیانو ته د دوه میلیارده افغانیو په ارزښت، د کوچیانو په خوښه پروژې پلې شي.
- د کلپ کوچي پروژې له لوري ۱۵ پنځلس فیدربانکونه جوړ شوي. له دې سره د کوچیانو په اقتصاد کې پام وړ بدلون راغلی دی. یاد فیدربانکونه په کابل، ننګرهار، لوګر او بغلان کې دي چې کوچیانو ته د کار زمینې برابرولو تر څنګ د دوی د مالونو لپاره حیواني خوراکه هم برابروي.
- سږ کال کوچیانو ته ۱۸۹۰ ټنه د مالونو علوفه او خوراکه ورکړل شوې ده. همدارنګه په ټول هیواد کې تقریباً ۳۹۰۰ ټنه غنم هم اړمنو کوچیانو ته ویشل شوي دي.
- د کوچي میرمنو د لاسي صنایعو لپاره طرح ترتیب شوې، چې دوی څنګه خپل اقتصاد جوړ کړي.
- کابل کې د کوچیانو لپاره د شیدو ټولولو یو مرکز جوړ شوی او موږ به راتلونکي کې له کرنې وزارت سره په ګډه د کوچیانې لبنیاتو د پروسس نور مرکزونه هم جوړ کړو.

له دې سربیره:
- په ۲۳ ولایتونو کې د ۲۳ بابه نمونوي جوماتونو د پروژې د تطبیق کارونه نهایي شوي چې ډیر ژر به د حج او اوقافو وزارت په مرسته کوچیانو ته جوماتونه هم جوړ کړو.
- د کوچیانو اداري لپاره مو پنځه کلن ستراتیژیک پلان ته انکشاف ورکړی. همدارنګه مو د اداري لپاره د لارې نقشه ترتیب کړې، چې د همدې نقشې له مخې به کوچیانو ته په اقتصادي، روغتیایي، تعلیمي، جرګو او اسکانو او نورو برخو کې خدمات ترسره کیږي.
- له سکتوري وزارتونو سره مو اړیکې پیاوړې کړي او د کوچیانو له پاره د ګډ کار کولو میکانیزم مو رامنځ ته کړی دی.
- په کرونایي وختونو کې کوچیانو ته د کرونا په هکله عامه پوهاوی ورکړل شوی. ماسکونه او نور اړین توکي کوچیانو ته ویشل شوي دي. همدرنګه په همدې وخت کې اړمنو کوچیانو ته وچه ډوډۍ هم ویشل شوې ده.
- روان کال کوچیانو ته د کلیو پراختیا وزارت په مرسته اته دیرش ۳۸ د پاکو اوبو څاه ګاني او یو سربند جوړ شوی دی.
- په مرکز او ولایتونو کې مو په سلګونو کوچیانو ته د تذکرو او پاسپورت ورکولو شرایط برابر کړي دي.
- په ټول هېواد کې سل ګونو کوچي میرمنو ته د مختلفو ناروغیو په هکله عامه پوهاوی ورکړل شوی دی.
- بل بنه خبر دا دی چې کوچیانو ته په ملي دسترخوان کې ونډه ورکړل شوې. د ملي دسترخوان مرستي به د

کوچیانو شوراګانو له لارې ویشل کیږي.
- تیر کال کې زموږ د ادرې تفتیش ۱۱ولایتونو کې د کوچیانو سیمه ییز واحدونه پلټلي او لازمې سپارښتنې ورته شوې دي. موږ هڅه کوو چې رونټیا ته کار وکړو.

له دې سره سره:

- ټولو کړنو کې مو له کوچیانو څخه مشوره او نظر اخیستی.
- د کوچیانو عامه پوهاوي لپاره مو د ایلبند په نوم مجله په هرو دریو میاشتو کې چاپیږي. ویب پاڼه او فسبوک پاڼه مو کوچیان او نور هیوادوال زموږ له کړنو خبروي، همدرانګه به ډیر ژر د ( کوچیان) په نوم مجله او کوچي غږ انلاین راډیو هم د کوچیانو لپاره نشرات پیل کړي.
- له اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره مو د فرهنګي همکاریو ګډ هوکړه لیک لاسلیک کړ، چې له مخې به یې د کوچي پیژندنې سیمینار جوړ کړو. همدارنګه د کوچیانو په ژوند د مستند فلم جوړول او د کوچیاني لاسي صنایعو لپاره د نندارتونونو جوړولو لپاره هم له اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره ګډ کار کوو. د ګډو همکاریو برخه کې له نورو ادارو سره هم هوکړه لیکونو باندې کار کوو، چې راتلونکي کې به لاسلیک شي.
- اطلاعاتو ته د لاسرسي برخه کې د کوچیانو اداره کار کوي. دې برخې ته مو یو بست ځانګړی کړی، چې مراجعینو ته پر وخت ځواب وایي. د ریاست ټولې کړنې په خپل وخت د ریاست له ویب پاڼې، فسبوک پاڼې او مجلې څخه خپریږي.

په پای کې له ټولو هغو ادارو څخه چې کوچیانو ته خدمات وړاندې کوي په کلکه غواړو چې په خپلو کړنو دې بیاځلې کتنه وکړي. له میلیونونو زیاتو کوچیانو ته، دغه اوسنې روغتیایي، تعلیمي، مالداري او نور خدمات بسنه نه کوي. له خیریه بنسټونو او موسسو څخه هم هیله لرو، چې کوچیانو ته به ځانګړې پاملرنه وکړي؛ تر څو دغه د قومونو وصل کوونکو او اقتصاد جوړونکو لپاره د ژوند مناسب شرایط برابر شي.